# له جنابت څخه د غسل طريقه

له أم المؤمنين مېمونې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې د غسل لپاره اوبه کېښودې، نو په يوې ټکې سره مې پټ کړ، هغه په خپلو لاسونو اوبه راتوې کړې، دواړه لاسونه يې ووينځل، بيا يې په ښي لاس سره په چپ لاس اوبه واچولې نو خپل عورت يې ومينځه، بيا يې لاس پر ځمکه راښکود او ويې مږه، بيا يې ومينځه، نو خولې او پوزې ته يې اوبه واچولې او مخ او دواړه متې يې ومينځلې، بيا يې په سر اوبه واړولې او پر نور ځان يې تېرې کړې، بيا څنډې ته شو، نو دواړه پښې يې ومينځلې، بيا مې يوه ټکه ورکړه خو هغه وا نه خسته او روان شو پداسې حال کې چې لاسونه يې څنډل.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

أم المؤمنين ميمونه رضی الله عنها مور ته له جنابت څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د غسل طريقه بيان کړه چې هغې ورته د غسل لپاره اوبه کېښودې، او په يوې ټکې سره يې پټ کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم لاندې کارونه تر سره کړل. لومړی: مخکې لدې چې لاسونه په لوښي کې ښکته کړي په دواړو لاسونو يې اوبه راواړولې او ويې مينځل. دويم: په ښي لاس سره يې په چپ لاس اوبه واچولې او خپله شرمګاه يې ومينځله. تر څو يې له هر ډول ناپاکۍ پاکه کړي چې د جنابت له امله وريورې نښتې وه. دريم: لاس يې په ځمکه ومږه، بيا يې ومينځه تر څو ترې ناپاکي لاړه شي. څلورم: مضمضه يې وکړه؛ خولې ته يې اوبه واچولې بيا يې وخوځولې، په خوله کې يې تاوې راتاوې کړې او بيا يې توی کړې، او استنشاق يې داسې وکړ چې پوزې ته يې اوبه کش کړې، بيا يې بېرته سونړ کړې تر څو پاکه شي. پنځم: مخ او دواړه متې يې ومينځلې. شپږم: په سر يې اوبه واړولې. اووم: په پاتې بدن يې اوبه واړولې. اتم: له خپل ځای نه بل ځای ته شو او په بل ځای کې يې پښې ومينځلې، ځکه چې مخکې يې نه وې وينځلې. بيا يې ورته يوه ټکه راوړه چې ځان پرې وچ کړي، خو هغه يې وانه خيسته او په لاسونو يې له ځان څخه اوبه وڅنډلې.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee